لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) ووايه، زه به درته د الله تعالى په وړاندې د) قيامت په ورځ ګواهي ورکړم

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چې وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل کاکا ته وويل: « (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) ووايه، زه به درته د الله تعالى په وړاندې د قيامت په ورځ ګواهي ورکړم»، وايي: که چېرته قريشو پېغور نه راکاوه او نه يې ويل: چې سخته - د مرګ وېرې او کمزورۍ - دې کار ته اړ وېسته نو ستا سترګې به مې پدې سره يخې کړې وې، نو الله تعالى دا آيت نازل کړ: {إِنَّكَ لا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ} [القصص: 56]. يعنې: بېشکه ته هدايت نشې کولى هغه چا ته چې ته يې خوښوې، او لېکن الله (هدايت ورکوي چا ته چې وغواړي او هغه ښه عالم دى په هدايت موندونکو باندې

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم له خپل تره ابو طالب څخه په داسې حال کې چې د مرګ په سختيو کې و، وغوښتل چې: (لا اله الا الله) ووايي تر څو ورته د قيامت په ورځ شفاعت وکړي، او په اسلام يې ګواهي ورکړي، هغه د شهادت له کلمې څخه لدې وېرې انکار وکړ چې قريش به يې وکنځي او په اړه به يې ووايي چې: هغه د مرګ او کمزورۍ له وېرې اسلام راوړ! نو نبي صلى الله عليه وسلم ته يې وويل: که چېرته داسې نه واى نو خامخا به مې د شهادت په ويلو سره ستا سترګې يخې کړې وې، او ته به مې ستا مراد ته رسولى وى تر دې چې ته راضي شې! نو الله تعالى هغه آيت نازل کړ چې پدې دلالت کوي چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم اسلام ته د توفيق د هدايت واک نه لري، بلکې الله تعالى يوازې هغه ذات دى چې د توفيق هدايت چاته ور په برخه کوي، او پيغمبر صلى الله عليه وسلم خلک په دلالت، بيان، لارښوونې او بلنې سره خلک نيغې لارې ته رابلي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65069